

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور مې بنکلې نشوه

رضا فرمند

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور مې ښکلې نشوه**

رضا فرمند

ژباړه:وياړ

سمون:زيړ افغان

برېښنايي خپرېدنه او بياکتنه: سلواغی ۱۴۰۲


---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

مور مې ښکلې نشوه... ! ........................................ ۱
مور مې موکه ونده مونده ........................................ ۹
زما سوفه ........................................ ۱۲
مور او ستومانتیا........................................ ۱٤
شعر........................................ ۱٥
مور او سرود........................................ ۱٦
مور او د کلیمې دانه........................................ ۱۷
مور او د کور ټغر ........................................ ۱۸
مور او آزادي ........................................ ۱۹
مور او «نه» ........................................ ۲۰
مور او ریال........................................ ۲۱
مور او د قرآن هینداره........................................ ۲۲
مور او حجاب ........................................ ۲۳
مور او نیا ........................................ ۲٤
مور او خاطره........................................ ۲٥
د پخلنځي مهربانه موجود........................................ ۲٦
مور او حسرتونه ........................................ ۲۷
مور او شک ........................................ ۲۸
د مور د شتون ثبت ........................................ ۲۹
مور او وحشي ټولنه ........................................ ۳۰
مور او عصبي حمله........................................ ۳۱
د غم رطوبت ........................................ ۳۳
د مور دروند څادر........................................ ۳٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار ................................................... ۳۵
د آیتونو په قمچینې .................................... ۳۶
د پلار پرېکړنده ایمان................................. ۳۷
د پلار ذهن ............................................ ۳۸
ډوډۍ او پلار .......................................... ۳۹
خبر ................................................... ٤٠
تریخ خبر .............................................. ٤١
د مرګ رنګ............................................ ٤٣
د شپې ګړنګ ........................................... ٤٤
د شپې څپه............................................. ٤٥
د مرګ تور بم.......................................... ٤٦
مرګ ښکلی کړه ......................................... ٤٧
مور په تېرو کې ........................................ ٤٨
...چې ماینديې مري! ................................... ٤٩
د مرګ حقیقت.......................................... ٥٠
د کلیمو ورږم........................................... ٥٢
ستا له مرګه ........................................... ٥٣
تابوت به دې............................................ ٥٤
د مور خاطرې.......................................... ٥٥
چوپتیا او مرګ دې ..................................... ٥٦
د مرګ لوی تابوت...................................... ٥٧
د ټولنې ځناور ......................................... ٥٩
مور او ځناوران......................................... ٦٠
مور او قهر.............................................. ٦٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور مې ښکلې نشوه... !

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
د ژوندانه دریڅه
د مینې پر مخ پرانېزي
مور د خپلې ښکلا مالکه نه وه.

مور مې ونه توانېده
د خپل غرور زیړه مرغلره
د تاریخ د سینګار له پرانیستي بکس څخه راواخلي
او د **کلیمې** په ناپایه هوا کې
ساه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
د **کلیمې** د الماس ځلا ته ځیر شي.
او د نړۍ د مانۍ لوړې څوکې ته
د **کلیمو**
کمند واچوي.

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
**کلیمې** ته ننوځي
او د حافظ د غزلونو سپوږمکۍ کې
د نړۍ ګردچاپېره
وګرځي.

مور مې ښکلی نشوه
مور مې ونه توانېده
خپله سترېا
د **کلیمې** په چینې کې پریمنځي
او د قهر زهرجنو اوبو یې
آه....
بهر ته لاره و نه مونده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې ونه توانېده
د خپل اندام پر څانګو
پسرلی وغوړوي.

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
د ورځې دمه وکړي
او شپې
د **کلیمې** څراغ
رڼا کړي
او غروب
د یوه جشن په شورماشور کې
پټ کړي
او د ویر په شپو کې
آه....
د شرابو لاره یې نه پېژندله.

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
له **کلیمې** سره عادت وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغې کې
آش تکراري شوی و
چای تکراري شوی و
د ښوروا ځوټېدل تکراري شوی و

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
ـ د **کليمې** تاج پر سر ـ
خپله ځلانده څېره
د غرور په هېنداره کې
وګوري.

مور مې ونه توانېده
له هېندارې سره عادت وکړي
او د مُسکا طرحه يې
آه...
د هيڅ شپې او ورځې پر پاڼې
بشپړه نشوه.

مور مې  ښکلی نشوه
مور مې ونه توانېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

حامله نشي
يا خپل رَحِم
يوه شپه په پټه
د سپي خواړه کړي.

مور مې ونه توانېده
حامله نشي
يا خپل جنين
د نيالګي په شان
په ګلدانۍ
په باغچې کې نال کړي.

مور مې ښکلی نشوه
مور مې ونه توانېده
حديثونه او روايتونه
له سره وليکي
او د لويانو په ټولګي کې
په ناڅاپه ليک او لوست زده کړي.

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل قرآن وليکي
يا ښځينه خدای وزېږوي
او د جماعت د جهل پيړ قشر
د ديگي د سوي کنکري په شان
په سيمي جالۍ او پوډرو پريمنځي.

مور مې ونه توانېده
د ستومانتيا پر مهال
غرمه
لکه د رټې په شان د ورځې له مخې
پاکه کړي
او کور په يوه پوکي
جارو کړي.

مور مې ونه توانېده
زموږ د تن په ميتابوليزم کې
لاس ووهي
او عيسی ډوله
په يوې مړۍ ډوډۍ
موږ
ټول کال ماړه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې ونه توانېده
د پخلي کار
څو ورځې پر موږ خرخ کړي
او له سپما یې
تحفه واخلي
او هر چا ته یې چې غواړي ډالۍ کړي.

مور مې ونه توانېده
د نړۍ عجیبه منظر
د **کلیمې** د پنجرې له منځه وګوري.

مور مې ونه توانېده
نور ښځه نه وي
له مورتوبه استعفا وکړي
او د ملاقات په اوږده کتار کې
پریشانه نشي.

مور مې ښکلې نشوه
مور مې ونه توانېده
جادو زده کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قاب
او کاچوغې بدله شي
او زموږ تر سترګو لېرې
په الماریٔ کې
پټه شي.

مور مې ونه توانېده
وزرې پیدا کړي
او د پخلنځي له پنجرې
یو سهار
د مرغۍ په شان
وتښتي.

۱۹۸۸-۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور مې موکه ونده مونده

مور مې موکه ونه مونده
چې **کلیمه** وپېژني
او د خپلې چوپتیا له تشې ژورتیا
د آسمان تر خیاله
والوزي.

مور مې موکه ونه مونده
چې د خیام او حافظ په شعر سره سرمسته
د جهل او تعصب په کوڅو کې
چغې ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې موکه ونه مونده
چې د خپلې هوښیارۍ الماس
د **کلیمې** په پتنوس کې
ښار په ښار وګرځوي
او ناپوهه جګړه ماران
د تجربې په محک
مختوري کړي.

مور مې موکه ونه مونده
چې د آزادۍ پرتمین حس
تجربه کړي؛
او د خپلې ښکلا غبرګون
د نارینه د کتنې او حیرت په هینداره کې
ننداره کړي.

مور مې موکه ونه مونده
چې د **کلیمې** په پړي
د مذهب له ژورې
تر اوبو ، تر ډبرو، تر ستورو
هسکه لاړه شي
نړۍ لمس کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند وپېژني
او په خپل لوی او مینه ناکه حس
ایمان راوړي.

مور مې موکه ونه مونده
چې دا ساده خبره
په **کلیمو** کې ولولي چې:
ـ دا تر ټولو مقدسه ده!

مور مې موکه ونه مونده
چې د خبرو درمند
د **کلیمې** په غلبیل
چڼ کړي
او د پوهې له ځلانده دانو یې
د غرور امیل
په غاړه کړي.

جنوری ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما سوفه

څومره حسرتي شوې ده مور!
ډبرې ورته ونه کتل
او د ژوند د کليمې په ډکه نړۍ کې
يوه شيبه ونه توانېده
د «زما» پر سوفه کښېني.

څومره حسرتي شوې ده مور!
له ستوري سره يې عادت ونکړ
په ستوري يې فکر ونکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ويالو زمزمه يې وانوريده
او ونه توانيده
د **كليمې** په ګرڼدتيا سره
مرګ شا ته
پرېږدي.

ڨومره حسرتي شوې ده مور!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او ستومانتیا

مور مې
په ستومانتیا کې وزېږېدله
نه یې سهار درلود نه یې ماښام.

د وخت آس
هغه له ویښتو ونیوله
او د ژوندانه د ځوزانو په کروندې کې یې
وځرخوله.

غږ یې چا وا نهورېد
کتل یې چا و نه کتل
او ځېره یې
تر مرګه
وسولېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **شعر**

شعر
مور ده
په مړو لاسونو
او بې حاله سترګو
د پخلنځي په اوو ګوټونو کې
د ډوډۍ او شیدو او د لېدنو او کتنو په کتارونو کې تلپایه آواره
. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او سرود

مور
خپلې کليمې
د وريجو په مينځ کې
ورکې کړي.

په هغه کې به
نوره **کليمه**
په درد سره!
سرود نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او د کليمې دانه

مور مې
په جومات کې اورېدلي وو
چې سترګې يې خطا دي
او په ذهن کې يې
د کليمې دانه
نه شنه کېږي.

په هغه کې
**ولې**
**که**
بی پایه واټونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او د کور ټغر

مور مو نه لیدله
له هغې سره مو
د کور د زاړه ټغر په شان
عادت کړی و.

۹۰/۱/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او آزادي

مور مې
د کور تر آخري مصرفي ریال پورې
آزادي لرله.

هغې کولای شول
سل تومانې
په اوبدلې کوچنۍ بټوې کې
غونځ کړي
او په آزادۍ
له هر ځایه چې وغواړي
سودا وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او «نه»

له ماشومتوبه يې
**نه** ترې اخيستلې وه
**کليمه** يې ترې اخيستې وه
هغه کوترې ته ورته وه
چې وزرې يې ورله پرې کړې وی
او **نه**
چې د هغې يو جزء و
د هغه په آه، کتنې او چوپتيا کې
رسوب کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او ريال

مور مې
له ريال سره
راحته نه وه
په اوسپنيزه ژبه يې نه پوهېده.

ريال
هغه ويرونکی شينې ټاغی و
چې د کلام بچي يې ترينه
په ناڅاپه
تښتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او د قرآن هینداره

هغه هینداره چې مقدسه ګڼل کېږي
هغه هینداره چې ویل کېږي
له ټولو هیندارو رڼه ده
د قرآن هینداره ښيیم
خو په هغې کې
د مور ځلانده څېره
نه ښکاري؟

۹۰/۲/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او حجاب

د آیتونو او روایتونو له تېرېدو وروسته
مور مې
د خپل ښایست له ډاره،
خپل غبږ په حجاب کې پټ کړ
خپلې سترګې یې په حجاب کې پټې کړې
او خپله مُسکا یې
په زرګونو حدیثونو
وتلله.

۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او نیا

نیا

- نیابۍ -

ماشومانو په شان شوې وه
کلیمه یې نوره نه پېژندله
او په اوبو او هېندارې یې
شک کاوه.
اوس!
اورم چې وایي:
مور مې
د ماشومانو په شان شوې.

۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور او خاطره**

خاطرې
اوس
خپل اوږده لاسونه
د سيوري په شان
ناروغې مور ته
اوږده کړي.

۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پخلنځي مهربانه موجود

د پخلنځي مهربانه موجود
چې مور یې بلو
او شتون ورته
- یوازې -
په تود آش او لوږې کې
احساسوو؛
اوس
ناروغه او ستومانه ده!

خپل همېشني ملګري
نغرى او لوخي
سماوار او جارو
پرېږدي.

۱۹۸۹/۵/۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او حسرتونه

مور
اوس
یوې چیتې **نه** ته پاتې کیږي
او د حسرتونو تر کنډوالې لاندې
یوه جسد ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او شک

مور
په خپلې اړتیا شک وکړ.
په خپلې غوښتنې یې شک وکړ.
په خپلې ښکلا یې شک وکړ.
او د خپل کلام پیاوړی قامت یې
په درد سره!
هېڅکله و نه لید!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور د شتون ثبت

مور مې ونتوانېده:
- خپل غړېدل رسمي کړي.
- خپل خندېدل رسمي کړي.
- خپله هوښياري رسمي کړي.
- خپله ښکلا رسمي کړي.
او په وحشي ټولنه کې
خپل شتون
ثبت کړي.

جنوري ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او وحشي ټولنه

په وحشي ټولنه کې
د مور
پوښتنه رسمي نه وه
غږ يې رسمي نه و
ښکلا يې رسمي نه وه
په وحشي ټولنه کې
د مور لوى الهى حق
اطاعت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او عصبي حمله

یوځل مور
د آش څکلو لپاره
خپله خوله پیدا کولی نشي
کاچوغه په لاس
هینداري ته راځي
ګوري چې څیره یې
د ډار او ویرې سیلۍ
کړه کړې
نو د پخلنځي په یوې څنډې کې حیرانه
کښیني.

*　*　*

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور له هغې وروسته
د خبرو پر ځای شپېلۍ وهله
او خندا يې...
آه څومره ژړونکې وه!

۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غم رطوبت

حيف!
مور مې و نه توانېده
د **کليمې** پر مخ ودرېږي
کله چې ژوند يې
د غم له رطوبته ورستېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور درونږ ځادر

مور
د نړۍ سیاله نشوه
ونه توانیده
خپل بې پایه درونږ ځادر
د ټولنې له لرغونې ذهن څخه
راټول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پلار**

پلار مې له جوماته مور ته راغی
پر کلام يې
درونـد غبار پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د آیتونو په قمچینې

پلار مې
د آیتونو په قمچینې
او د حدیثونو او روایتونو په تسمې
مور
د خپل ژوند په ګاډۍ پسې وتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پلار پرېکړنده ایمان

د پلار
ایمان
د مور له پرېکړنده شتون څخه
پیاوړی و.

نو ځکه
ان کلیمه یې هم
له مور څخه ونه پېرېده.
**ان** خبرې یې ورته
و نه تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پلار ذهن

مور مې و نه توانېده
د پلار ذهن ته
ـ دې سپېرې لرغوني کلا ته ـ
ورننووځي
او هغه
د پخلنځي د ځلورو گوټونو په شان
د حديثونو او روايتونو له ميدګۍ
جارو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډوډۍ او پلار

پلار
تل
له ډوډۍ
نیمګړی و
خو قامت یې
له سهاره تر ماښامه
لنډ و.

ډوډۍ
په هغه کې
کلیمه نشوه.

۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خبر

خبر
څاڅکی څاڅکی
په کلیمو کې مې
حلیږي
راماتې اوښکې مې
بې ځایه نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تريخ خبر

تريخ خبر نشو کولای
لکه خځله له سترګې راوباسو
یا د مسمومو خوړو په شان یې
قی کړو.

تريخ خبر
نشو کولای ان د زخمي درد په شان
وژړو.

تريخ خبر
له چوپتیا سره دې یو ځای کېږي
له مسکا سره دې یو ځای کېږي
له **کلیمې** سره دې یو ځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کلیمه** مې

د مور له مرګه شنې او ترخی کېږي!

شنې او ترخې کېږي.

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مرګ رنګ

مور
د اوښکو د څاڅکو په شان
د مرګ په رنګ کې
محوه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شيبې ګړنګ

مور
د شيبې له ګړنګه
راوپرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپې څپه**

د يوې شپې څپې
مور ويوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مرگ تور بم

د مرگ تور بم
ناڅاپي زموږ پر کور راوغورځېد
او مور يې
د چوپتيا په کنډوالې کې
ښخه کړه.

د **کليمې** په زړه کې مې
اوس!
يوه لويه کنده جوړه شوې ده.

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرگ ښکلی کړه

مړاوې شوه
مړه شوه مور
مړاوی شوه
مړه شوه مور!

آه...
د یوې شیبې لپاره
حافظه له ما واخله!
یوه شیبه
مرگ ښکلی کړه

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور په تېرو کې

مور په تېر کې
په **اوس** کې
نوره په لاره نه ځي
خبرې نه کوي
په **اوس** کې
ان نوره
په پخلنځي کې نشته.

زه نه پوهېدم
چې د شيبې سطحه
دومره سسته ده!
او د مرگ څاه
بی پایه دی!
زه نه پوهېدم!

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ...چې مایندې مري!

...چې مایندې مري!
...چې مرګ حقیقت لري!

*　　*　　*

د ژوند اړتیا
د باور کړکۍ
څه ښه تړي!
که نه
د مرګ له پریکړنده شتون سره
به مو څه کړی وای؟

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مرگ حقيقت

د **کليمې** پړی
افسوس
د مرگ د کوهي تل ته نه رسېږي!

د ناروغې مور له ناڅاپه پرېوتلو وروسته
په هغې کې
کړی کړی
تر وروستۍ کليمې پورې
کښته شوم؛
ناچاره بېرته د شيبو سطحې ته
راستون شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ژوند مې اعتماد
له منځه تللی
مرګ،
حقيقت لري.

دسمبر ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کلیمو وږم

مرگ دي
زما د کلیمو وږم
گرځندی کړی دی.

اوس!
**مرگ** ما ته
آشنا شوی
**شیبه،**
لا رڼه
**مینه،**
لا لویه.

جنوري ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا له مرگه

ستا له مرگه
شيبې مې
درندې شوې
او خاطر مې
لکه د جنازې
پړسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تابوت به دي

تابوت به دي
د خپل شعر په اوږه
ښار په ښار
وګرځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور خاطرې

د مور خاطرې
بی له ځنډه پر **کلیمو** مې اوس
وربېږي
او له سترګو مې
راتویېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چوپتیا او مرگ دې

چوپتیا دې زه
تر مرگه رسولم:
دروندوالی يې
زر چنده ډېرېده.
مرگ به دې
را سره څه وکړي؟

جنوري ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مرگ لوی تابوت

په مرگ کې ځنگه یې موري؟
د ژوندانه د شېبو تابوت دې
سخت او تنگ و.
اوس هلته
د مرگ په لوی تابوت کې
آرامه نه یې؟

په مرگ کې ځنگه یې موري؟
فکر کوم هلته هم
د پخلي د سمبالولو په اندېښنه کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا چې دسترخوان
د مرګ په کوم ځای کې هوار کړې
او مور ته
څنګه او له کومې کړکۍ
غږ وکړي.

جنوري ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټولنې ځناور

مور
د ټولنې ځناور
وداړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او ځناوران

په درد سره، چې ستا په ژوندانه کې مورې
ځناورانو
ژوند تصرف کړی و
او ته یې
د آزادۍ په څېر
سپکه ګڼلې.

په درد سره، چې ستا په ژوندانه کې مورې
ځناورانو
**کلیمه**
ـ دا ستره پنجره ـ
ستا پر مخ وتړله
ذکاوت یې درته ممنوع کړ.
جسارت یې درته  ممنوع کړ.
او ښایست یې درته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه وګڼله.

په درد سره، چې ستا په ژوندانه کې مورې
ځناورانو
ژوند تصرف کړی و!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور او قهر

حيف!
مور
هيڅکله مې مور و نه توانيده
د خپل پټ قهر په ويالې کې
وبهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په درد سره، چې ستا په ژوندانه کې مورې

ځناورانو

ژوند تصرف کړی و

او ته یې

د آزادۍ په څېر

سپکه ګڼلې.

په درد سره، چې ستا په ژوندانه کې مورې

ځناورانو

کلیمه

ـ دا ستره پنجره ـ

ستا پر مخ وتړله

ذکاوت یې درته ممنوع کړ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**